بې‌شکه الله تعالی هغه کسانو ته عذاب ورکوي څوک چې په دنیا کې خلکو ته عذاب ورکوي

له هشام بن حکیم بن حزام رضي الله عنهما څخه روایت دی چې هغه په شام کې د انباطو په ځینو خلکو تېرېده چې هغوی په لمر کې درول شوي و، نو ویې ویل: ولې پر دوی داسې کېږي؟ هغوی وویل: د جزیې نه ورکولو له امله بندیان شوي دي، نو هشام وویل: زه ګواهي ورکوم چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې فرمایل یې: «بې‌شکه الله تعالی هغه کسانو ته عذاب ورکوي څوک چې په دنیا کې خلکو ته عذاب ورکوي».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

هشام بن حکیم بن حزام رضي الله عنهما په شام کې د عجمو د بزګرانو پر یوه ټولي تېرېده چې هغوی په لمر کې درول شوي وو، نو هغه یې د حال په اړه پوښتنه وکړه؟ نو ورته وویل شو چې دا سزا د دې لپاره ورکول کېږي چې هغوی جزیه نه ده ورکړې، سره له دې چې د ورکړې توان یې لري. نو هشام رضي الله عنه وویل: زه ګواهي ورکوم چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې ویل یې: بې‌شکه الله هغه کسانو ته عذاب ورکوي چې په دنیا کې خلکو ته ناحقه په ظلم سره عذاب ورکوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8888